# په افغانستان کې ملګرو ملتونو د عدليې او کار له وزارتونو سره د نقليه وسايطو مرسته وکړه

**کابل، د مئ ۹، ۲۰۱۲-** په افغانستان کې ملګرو ملتونو نن په هيواد کې د قانون د حاکميت، عدالت او د کار کوونکو د ښيګڼې په موخه د حکومتي چارو د ملاتړ په خاطر په لومړی پړاو کې د ۶۰ څخه د زياتو نقليه وسايطو مرسته وکړه.

د ډالۍ کولو په مراسمو کې چې نن دملګرو ملتونو په انګړ کې چې د جلال آباد په لويه لار موقيت لري، د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړي استازی ښاغلی يان کوبش د يوناما د نقليه وسايطو د مالکيت اسناد او کيلۍ د عدليې وزير ښاغلی حبيب الله غالب او د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو د چارو وزيرې آغلې آمنه صافی افضلی ته وسپارلې.

ښاغلی يان کوبش وويل، "زه په خوښۍ سره اعلان کوم، چې زموږ د راتلونکې مرستې د يوې برخې په څير د ۶۰ څخه د زياتو نقليه وسايطو د لومړی پړاو پيل زموږ د مهمو شريکانو يعنی د عدليې او کار د وزارتونو سره پيلوو. نوموړی يادونه وکړه چې دا مرسته به ملګري ملتونه خپلو شريکانو ته لا نږدې کړي او د يوناما او اړوندو وزارتونو ترمنځ به د هغوي د ګډو ماموريتونو په پام کې نيولو سره په ځانګړې توګه د نږدې همکاري څرګندونه کوي."

د عدليې وزارت څلور تويوتا 4-Runner SRS نقليه وسايط تر لاسه کړی. د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت درې تويوتا هايس منی بسونه او دوه تويوتا4-Runner SRS نقليه وسايط ترلاسه کړي.

ښاغلی يان کوبش چې د يوناما او د کار د نړيوال سازمان په استازيتوب يې خبرې کولې وويل، "هيله لرم چې دا کوچنۍ مرسته به د عدالت د تامين او د کا رکوونکو او معيوبينو د ژوندانه د ښه کولو په دواړو برخو کې چاری پر مخ يوسی او دا مرسته به دغو دواړو وزارتونو ته په افغانستان کې د خلکو لپاره د لا ښو خدمتونو د برابرولو په چارو کې فرصت برابر کړي."

ښاغلی غالب د ښاغلی يان کوبش څخه د مننې د ويلو پرمهال وويل، دا مرسته د وزارت لپاره د اخلاقي مرستې په مانا ده.
ښاغلی وزير وويل، "دا مرسته د دې څرګندوي کوي چې يوناما د وزارتونو په اړه تمرکز کوي، هغوي په رښتيا سره زموږ په اړه فکرکوي او موږ د هغوي لپاره د اهميت وړ يو."

د کار آغلې وزيرې وويل، "دا ډول مرستې به د کار وزارت ته اجازه ورکړي څو ټولنيز خدمتونه برابر کړي او ښايې د لوجستکي ملاتړ نه پرته د ټولنيزو خدمتونو برابرول شوني نه وي."

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan
All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org